# الكهف

**مکی سورة دې ۱۱۰ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَىٰ عَبۡدِهِ ٱلۡكِتَٰبَ وَلَمۡ يَجۡعَل لَّهُۥ عِوَجَاۜ ﴿١﴾

**ثنا او ستاینه ده د الله تعالی د ذات، چې پخپل مقرب بنده( محمد صلی الله علیه وسلم یې هغه اکمل) کتاب نازل کړی چې له( لفظی او معنوی) انحراف نه کاملاً پاک دی.**

قَيِّمٗا لِّيُنذِرَ بَأۡسٗا شَدِيدٗا مِّن لَّدُنۡهُ وَيُبَشِّرَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱلَّذِينَ

يَعۡمَلُونَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمۡ أَجۡرًا حَسَنٗا ﴿٢﴾

**هغه مستحکم او ثابت قرآن چې(کافران او ظالمان) په سخت عذاب سره تهدیدوی او نیک عمله مؤمنانو ته د نیک اجر( جنت) زیری ورکوی:**

مَّٰكِثِينَ فِيهِ أَبَدٗا ﴿٣﴾

**چې دوی به پکې تل تر تله استوګن وی.**

وَيُنذِرَ ٱلَّذِينَ قَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدٗا ﴿٤﴾

**او هغه (عیسویان او د یهودو ځینې قبیلې د جهنم له اوره) ویروی چې وایی: الله تعالی زوی لری .**

مَّا لَهُم بِهِۦ مِنۡ عِلۡمٖ وَلَا لِأٓبَآئِهِمۡۚ كَبُرَتۡ كَلِمَةٗ تَخۡرُجُ مِنۡ

أَفۡوَٰهِهِمۡۚ إِن يَقُولُونَ إِلَّا كَذِبٗا ﴿٥﴾

**نه هغوی په دغه( مزخرفه او بی اساسه ادعا) کوم علمی تحقیق او پوهه لری او نه یې پلرونه. بلکه یوه لویه ( ګستاخه) خبره یې له خولې راوزی( چې د دوی په جهل او ناپوهی دلالت کوی) او محض دروغ او تومت دی.**

فَلَعَلَّكَ بَٰخِعٞ نَّفۡسَكَ عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِمۡ إِن لَّمۡ يُؤۡمِنُواْ بِهَٰذَا ٱلۡحَدِيثِ

أَسَفًا ﴿٦﴾

( ای پیغمبره!) که دوی په دې الهی کلام ایمان نه راوړی نو ته یې هم   له غمه ځان مه کړوه( ستا وظیفه یوازې دوی ته دعوت او تبلیغ دی).

إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى ٱلْأَرْضِ زِينَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ
عَمَلًا ٧

بیشکه چې مونږ ځمکه( په ونو، نباتاتو، بحرونو او سیندونو او پرمختللو وسایلو او اثارو) ښکلې کړې، ترڅو انسانان وازمایو چې څوک ښې کړنې او اعمال سرته رسوی.

وَإِنَّا لَجَٰعِلُونَ مَا عَلَيْهَا صَعِيدًا جُرُزًا ٨

خو بالاخره به مونږ، (د همدغو ټولو شتمنیو په تباه کولو سره) ځمکه په یوه وچه او شاړه بیدیا بدله کړو.

أَمْ حَسِبْتَ أَنَّ أَصْحَٰبَ ٱلْكَهْفِ وَٱلرَّقِيمِ كَانُوا۟ مِنْ ءَايَٰتِنَا
عَجَبًا ٩

آیا فکر کوې چې اصحاب کهف او رقیم( د سمڅې او کتیبې ملګری) زمونږ  یوازینی  حیرانوونکې نښه وه؟( نه- داسې نه ده بلکه د هستۍ په لویه صفحه، له دې لا زیاتې عجیبې او حیرانوونکې پیښې هم ثبت دی).

إِذْ أَوَى ٱلْفِتْيَةُ إِلَى ٱلْكَهْفِ فَقَالُوا۟ رَبَّنَآ ءَاتِنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ
لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَدًا ١٠

(اصحاب کهف)  څو تنه ځوانان وو  چې( زړونه یې د تقوا له نوره ډک وو، د شرک او فتنې له محیط څخه ګوښه، د غره) په یوه سمڅه کې یې  پناه واخسته او دعا یې وکړه: ای زمونږ ربه! پخپل ځانګړی رحمت مو سرلوړی کړه او په چارو کې مو راته نیکه لارښوونه کړه.

فَضَرَبْنَا عَلَىٰٓ ءَاذَانِهِمْ فِى ٱلْكَهْفِ سِنِينَ عَدَدًا ١١

نو ډیر کلونه مو په همدغه سمڅه کې د دوی په غوږونو د خوب پرده وغوړوله ( او په درانه خوب مو ویده کړل).

ثُمَّ بَعَثْنَٰهُمْ لِنَعْلَمَ أَىُّ ٱلْحِزْبَيْنِ أَحْصَىٰ لِمَا لَبِثُوٓا۟ أَمَدًا ١٢

بیا مو راویښ کړل چې معلومه کړو (د دوی)کومه ډله د خپل خوب  د مودې  ښه اټکل کولی شی.

نَّحۡنُ نَقُصُّ عَلَيۡكَ نَبَأَهُم بِٱلۡحَقِّۚ إِنَّهُمۡ فِتۡيَةٌ ءَامَنُواْ بِرَبِّهِمۡ
وَزِدۡنَٰهُمۡ هُدٗى ١٣

**مونږ د دوی( له عبرت نه ډکه) ربښتیني کیسه تاته اوروو. دا یوه ډله ځوانان وو، چې پخپل رب یې ایمان درلود او مونږ ورته لا زیاته لاربښوونه کړې وه.**

وَرَبَطۡنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ إِذۡ قَامُواْ فَقَالُواْ رَبُّنَا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِ لَن نَّدۡعُوَاْ مِن دُونِهِۦٓ إِلَٰهٗاۖ لَّقَدۡ قُلۡنَآ إِذٗا شَطَطًا ١٤

**او زړونه( او مورال) مو ورله هغه وخت نور هم ټینګ او پیاوړی کړل چې دوی( د شرک او بت پرستۍ په ضد) راپورته شول او اعلان یې وکړ چې: زمونږ حقیقی رب هماغه د آسمانونو او ځمکې( کائناتو) رب دی او مونږ له همدغه ذات نه غیر، د بل هیڅ (باطل) خدای عبادت نه کوو( او که د باطلو خدایانو عبادت وکړو نو) له حق نه به مو تیری کړی وی او دروغ به مو ویلی وی.**

هَٰٓؤُلَآءِ قَوۡمُنَا ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةٗۖ لَّوۡلَا يَأۡتُونَ
عَلَيۡهِم بِسُلۡطَٰنِۭ بَيِّنٖۖ فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ
كَذِبٗا ١٥

**زمونږ قوم( جاهل او بې منطقه دی) چې د حقیقی رب په ځای یې باطل او خود ساخته خدایان په ربوبیت نیولی او د هغوی د حقانیت په باب هیڅ کوم روښانه دلیل نشی وړاندې کولی، نو له هغه نه به لوی ظالم، بل څوک وی، چې په الله تعالی د دروغو تومت تړی( او وایی چې الله تعالی په ربوبیت کې نور شریکان هم لری).**

وَإِذِ ٱعۡتَزَلۡتُمُوهُمۡ وَمَا يَعۡبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ فَأۡوُۥٓاْ إِلَى ٱلۡكَهۡفِ يَنشُرۡ
لَكُمۡ رَبُّكُم مِّن رَّحۡمَتِهِۦ وَيُهَيِّئۡ لَكُم مِّنۡ أَمۡرِكُم مِّرۡفَقٗا ١٦

( دغو زلميانو د خپلمنځی مشورو وروسته پريکړه وکړه) اوس چې مو له مشرکانو او د هغوی له باطلو خدايانو څخه، ځانونه ګوښه کړی، نو په همدغه سمڅه کې پناه واخلئ( او پکې واړوئ) الله تعالى به خپل رحمت راخپور او چارې به مو درته آسانې کړی.

۞ وَتَرَى ٱلشَّمۡسَ إِذَا طَلَعَت تَّزَٰوَرُ عَن كَهۡفِهِمۡ ذَاتَ ٱلۡيَمِينِ وَإِذَا
غَرَبَت تَّقۡرِضُهُمۡ ذَاتَ ٱلشِّمَالِ وَهُمۡ فِي فَجۡوَةٖ مِّنۡهُۚ ذَٰلِكَ مِنۡ ءَايَٰتِ
ٱللَّهِۗ مَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلۡمُهۡتَدِۖ وَمَن يُضۡلِلۡ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ وَلِيّٗا
مُّرۡشِدٗا ١٧

او( ای مخاطبه!) ګورې به چې لمر د راختلو په وخت، له ښی لوری له سمڅې تيرېږی او د پريوتو په وخت ترې له کين اړخه اوړی( صرف د ضرورت په اندازه ورته لمر رسيږی)او هغوی د سمڅې په پراخه ساحه کې پراته دی. دا د الله تعالى( د قدرت) نښه ده. چاته چې الله تعالى هدايت کړی، په حقيقت کې په سمه لار روان دی، او څوک چې يې ګمراه کړی، ته به ورته هيڅ مرستندوی او دوست و نه مومې.

وَتَحۡسَبُهُمۡ أَيۡقَاظٗا وَهُمۡ رُقُودٞۚ وَنُقَلِّبُهُمۡ ذَاتَ ٱلۡيَمِينِ وَذَاتَ
ٱلشِّمَالِۖ وَكَلۡبُهُم بَٰسِطٞ ذِرَاعَيۡهِ بِٱلۡوَصِيدِۚ لَوِ ٱطَّلَعۡتَ عَلَيۡهِمۡ
لَوَلَّيۡتَ مِنۡهُمۡ فِرَارٗا وَلَمُلِئۡتَ مِنۡهُمۡ رُعۡبٗا ١٨

او چې ورته ګورې، ته به وا، دوی ويښ دی( ځکه سترګې يې غړيدلې پاتې دی) خو دوی ويده دی، او مونږ يې ښئ او کين اړخ ته اړوو- رااړوو، او سپی يې خپلې دواړه څنګلې د سمڅې په خوله غزولی، او که لږ شان د هغوی په لور ورپورته شوی او ورته دې کتلی وای، بيرته به ترې په شا تښتيدلی، او په وجود به دې د سختې ويرې او هيبت لرزه راغلی وای.

وَكَذَٰلِكَ بَعَثۡنَٰهُمۡ لِيَتَسَآءَلُواْ بَيۡنَهُمۡۚ قَالَ قَآئِلٞ مِّنۡهُمۡ كَمۡ
لَبِثۡتُمۡۖ قَالُواْ لَبِثۡنَا يَوۡمًا أَوۡ بَعۡضَ يَوۡمٖۚ قَالُواْ رَبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِمَا لَبِثۡتُمۡ
فَٱبۡعَثُوٓاْ أَحَدَكُم بِوَرِقِكُمۡ هَٰذِهِۦٓ إِلَى ٱلۡمَدِينَةِ فَلۡيَنظُرۡ أَيُّهَآ
أَزۡكَىٰ طَعَامٗا فَلۡيَأۡتِكُم بِرِزۡقٖ مِّنۡهُ وَلۡيَتَلَطَّفۡ وَلَا يُشۡعِرَنَّ
بِكُمۡ أَحَدًا ١٩

(او لکه څنګه چې مو پخپل قدرت، دوی ویده کړی وو) بیرته مو راویښ کړل، تر څو له یو بل نه د خوب د وخت په باب پوښتنې وکړی. یوه تن یې وویل: څه موده مو تیره کړې ده؟ څو تنو وویل: ورځ به پوره وه یا به نه. او ځینو یې وویل: رب مو ډیر ښه پوهیږی چې څومره وخت تیر شوی دی. اوس یو تن له دې پیسو سره ښار ته ولیږئ چې په پوره احتیاط سره پاک خواړه مونږ ته راوړی او باید په تګ راتګ او خواړو اخستلو کې هم ډیره هوښیارتیا او پاملرنه وکړی چې څوک ستاسو له حاله خبر نشی.

إِنَّهُمۡ إِن يَظۡهَرُواْ عَلَيۡكُمۡ يَرۡجُمُوكُمۡ أَوۡ يُعِيدُوكُمۡ فِي مِلَّتِهِمۡ
وَلَن تُفۡلِحُوٓاْ إِذًا أَبَدٗا ٢٠

که (د حکومتی چارواکو) لاس ته ورشئ، سنګسار به مو کړی او یا به مو بیرته خپل دین ته وګرځوی، او بیا به نو هیڅکله هم د نیکمرغۍ مخ و نه وینئ.

وَكَذَٰلِكَ أَعۡثَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ لِيَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ وَأَنَّ ٱلسَّاعَةَ
لَا رَيۡبَ فِيهَآ إِذۡ يَتَنَٰزَعُونَ بَيۡنَهُمۡ أَمۡرَهُمۡۖ فَقَالُواْ ٱبۡنُواْ عَلَيۡهِم بُنۡيَٰنٗاۖ
رَّبُّهُمۡ أَعۡلَمُ بِهِمۡۚ قَالَ ٱلَّذِينَ غَلَبُواْ عَلَىٰٓ أَمۡرِهِمۡ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيۡهِم
مَّسۡجِدٗا ٢١

او په دې توګه مو(د ښار خلک د هغې لرغونې سکې په وسیله) د هغوی له حاله خبر کړل، تر څو پوه شی چې( د بعث بعدالموت په باب) د الله تعالی وعده حقه ده او د قیامت په راتلو کې هم څه شک او تردید نشته.
هغه وخت چې د سمڅې کشف کوونکو پخپل منځ کې ناندرۍ او جنجال جوړ کړ، نو( یوې ډلې) وویل چې په همدغه ځای یوه لویه ودانۍ جوړه کړئ (چې دوی له عامه انظارو پټ پاتې شی) او پوازې الله تعالی یې په حال خبر وی، خو بلې ډلې چې د اصحاب کهف چارې یې په واک کې اخستې وې وویل چې مونږ به په دغه ځای یو جومات جوړ کړو.

سَيَقُولُونَ ثَلَٰثَةٌ رَّابِعُهُمْ كَلْبُهُمْ وَيَقُولُونَ خَمْسَةٌ سَادِسُهُمْ كَلْبُهُمْ رَجْمًا بِالْغَيْبِ ۖ وَيَقُولُونَ سَبْعَةٌ وَثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ ۚ قُل رَّبِّي أَعْلَمُ بِعِدَّتِهِم مَّا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا قَلِيلٌ ۗ فَلَا تُمَارِ فِيهِمْ إِلَّا مِرَاءً ظَٰهِرًا وَلَا تَسْتَفْتِ فِيهِم مِّنْهُمْ أَحَدًا ﴿٢٢﴾

ځینې خلک به وایی چې هغوی درې تنه وو او څلورم یې سپی و، او ځینې به وایی چې پنځه تنه وو، او شپږم ورسره سپی و، دا ټول اټکلی غشی ویشتل دی، او ځینې وایی چې هغوی اوه تنه وو او اتم یې ورسره سپی و. (ای پیغمبره) ورته ووایه چې پوره شمیر یې زما رب ته ښه معلوم دی، او ډیر لږ شمیر کسان هم د هغوی په کره شمیر خبر دی( چې ابن عباس رض هم پکې شامل دی او وایی چې اصحاب کهف همدغه اوه تنه وو) نو د سرسری بحث نه غیر، له هیچا سره د هغوی په باب ژور بحث او جنجال مه کوه، او مه له چانه د هغوی په باب پوښتنه کوه.

وَلَا تَقُولَنَّ لِشَيْءٍ إِنِّي فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا ﴿٢٣﴾

او د هیڅ کار په باب مه وایه چې سبا به یې سرته ورسوم.

إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ ۚ وَاذْكُر رَّبَّكَ إِذَا نَسِيتَ وَقُلْ عَسَىٰ أَن يَهْدِيَنِ رَبِّي لِأَقْرَبَ مِنْ هَٰذَا رَشَدًا ﴿٢٤﴾

خو ورسره وایه چې:« که د الله تعالی رضا وی». او که د « ان شاءالله» ویل درنه هیر شول نو د الله ذکر وکړه او ووایه: هیله من یم چې زما رب به ماته تر دې لا ډیره ښه او مصلحت ته نږدې لاره راوښایی.

وَلَبِثُوا فِي كَهْفِهِمْ ثَلَاثَ مِائَةٍ سِنِينَ وَازْدَادُوا تِسْعًا ﴿٢٥﴾

او( اصحاب کهف) درې سوه کاله په سمڅه کې پاتې شول او نهه یې نور هم وربانډې زیات کړل.

قُلِ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا لَبِثُواْۖ لَهُۥ غَيۡبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ أَبۡصِرۡ بِهِۦ وَأَسۡمِعۡۚ مَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَلِيّٖ وَلَا يُشۡرِكُ فِي حُكۡمِهِۦٓ أَحَدٗا ٢٦

ای پیغمبره ووایه: الله تعالی د دوی د پاتې کیدو په حال او کیفیت ډیر ښه پوهیږی، د آسمانونو او ځمکې ټول اسرار یوازې په هغه پورې اړه لری، ښه اوریدونکی او ښه لیدونکی ذات دی. نه خو د آسمانونو او ځمکې اوسیدونکی، د الله تعالی نه غیر، بل کوم مرستندوی او کار جوړوونکی لری، او نه الله تعالی( د هستی د جهان د لوی سلطنت) په اداره او تدبیر کې شریک او مرستیال ته اړ دی.

وَٱتۡلُ مَآ أُوحِيَ إِلَيۡكَ مِن كِتَابِ رَبِّكَۖ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَن تَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلۡتَحَدٗا ٢٧

(ای پیغمبره!) د خپل رب د کتاب وحې کړی شوی( آیتونه ټکی په ټکی خلکو ته) واوروه. هیڅوک د هغه په کلام کې بدلون نشی راوستی، او نه به له( الهی درگاه) نه غیر بل کوم پناځی پیدا کړی شې.

وَٱصۡبِرۡ نَفۡسَكَ مَعَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ رَبَّهُم بِٱلۡغَدَوٰةِ وَٱلۡعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجۡهَهُۥۖ وَلَا تَعۡدُ عَيۡنَاكَ عَنۡهُمۡ تُرِيدُ زِينَةَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَا تُطِعۡ مَنۡ أَغۡفَلۡنَا قَلۡبَهُۥ عَن ذِكۡرِنَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ وَكَانَ أَمۡرُهُۥ فُرُطٗا ٢٨

او په پوره صبر او ډاډ، هغه( مخلص مؤمنان) پخپل حضور کې ساته چې سهار ماښام( په عبادت کې) خپل رب یادوی او لویه ارزو یې د هغه رضا او خوښی ده. ته خپله پاملرنه د دنیا د رونق او ښایست لپاره له هغوی نه( د لویو مستکبرینو په لور) مه اړوه، او د هغه چا د خواهشاتو پیروی مه کوه چې زړه یې مونږ ( د ده د کفر او سرکشی له امله) له الهی ذکر نه غافل کړی، د خپلو نفسی خواهشاتو په لومو کې نښتې او ټولې چارې یې په افراط ولاړې دی.

وَقُلِ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ ۖ فَمَن شَآءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَآءَ فَلْيَكْفُرْ ۚ إِنَّآ
أَعْتَدْنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا ۚ وَإِن يَسْتَغِيثُوا۟ يُغَاثُوا۟
بِمَآءٍ كَٱلْمُهْلِ يَشْوِى ٱلْوُجُوهَ ۚ بِئْسَ ٱلشَّرَابُ وَسَآءَتْ
مُرْتَفَقًا ﴿٢٩﴾

او (ای پیغمبره! )حق( د خپل رب احکام په پوره جرأت خلکو ته) اوروه. که څوک غواړی ایمان دې راوړی، او که څوک غواړی د کفر لاره دې غوره کړی، مونږ د ظالمانو لپاره داسې اور تیار کړی چې ټولې پردې به یې له دوی چاپیره شی او که د تندې د شدت له امله دعا ګانې او فریادونه وکړی، نو وینې او زوې( یا د تیلو خټه) به ورته ورکړی شی چې مخونه وریتوی. څومره بد څښاک او څومره بد هستوګنځی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ مَنْ
أَحْسَنَ عَمَلًا ﴿٣٠﴾

خو ایمان لرونکو او نیک عمله کسانو ته به( نیک او احسن اجر ورکړو ځکه) مونږ د نیک عمله خلکو اجر او ثواب نه ضایع کوو.

أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ جَنَّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهِمُ ٱلْأَنْهَٰرُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ
مِن ذَهَبٍ وَيَلْبَسُونَ ثِيَابًا خُضْرًا مِّن سُندُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى
ٱلْأَرَآئِكِ ۚ نِعْمَ ٱلثَّوَابُ وَحَسُنَتْ مُرْتَفَقًا ﴿٣١﴾

هستوګنه به یې په داسې تلپاتې جنتونو کې وی چې ( د الهی نعمتونو) رودونه پکې روان وی. د سرو زرو وښی به یې په لاسو وی او د شنو نازکو او پریړو وریښمو کالی به یې اغوستی او( مجللو) تختونو ته به یې ډډې وهلې وهی.څومره ښه اجر او څومره عالی هستوګنځی.

۞ وَٱضْرِبْ لَهُم مَّثَلًا رَّجُلَيْنِ جَعَلْنَا لِأَحَدِهِمَا جَنَّتَيْنِ مِنْ أَعْنَٰبٍ
وَحَفَفْنَٰهُمَا بِنَخْلٍ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمَا زَرْعًا ﴿٣٢﴾

او مشرکانو ته چې( په باطلو معبودانو او فانی دنیا پورې یې زړونه تړلی) د هغو دوو کسانو د ژوند مثال وړاندې کړه چې مونږ یې یوه تن ته د انګورو دوه سمسور باغونه ورکړی وو، چې شاوخوا یې د خرماو په ونو پوښلي او د دواړو باغونو ترمنځ یې د کرنی حاصلخیزه ځمکه وه.

كِلْتَا ٱلْجَنَّتَيْنِ ءَاتَتْ أُكُلَهَا وَلَمْ تَظْلِم مِّنْهُ شَيْـًٔا ۚ وَفَجَّرْنَا خِلَٰلَهُمَا نَهَرًا ﴿٣٣﴾

دواړه باغونه له ډول ډول میوو ډک وو او هیڅ کمی پکې نه راته، او د هغو تر منځ مو( د رڼو اوبو ډکه) ویاله هم روانه کړې وه.

وَكَانَ لَهُۥ ثَمَرٌ فَقَالَ لِصَٰحِبِهِۦ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ أَنَا۠ أَكْثَرُ مِنكَ مَالًا وَأَعَزُّ نَفَرًا ﴿٣٤﴾

او د میوو ښه حاصلات ورته راتلل، نو( یوه ورځ یې) د خبرو اترو په ترڅ کې، خپل ملګری ته وویل: زما مال او شتمنی ستانه ډیره ده او د افرادو ملاتړ می هم درنه زیات دی.

وَدَخَلَ جَنَّتَهُۥ وَهُوَ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِۦ قَالَ مَآ أَظُنُّ أَن تَبِيدَ هَٰذِهِۦٓ أَبَدًا ﴿٣٥﴾

او په ځان ظالم( او د غرور په نیشه کې) خپل باغ ته ننوت او ویې ویل: ګومان نه کوم چې کله دې هم دا باغ تباه شی.

وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةً وَلَئِن رُّدِدتُّ إِلَىٰ رَبِّى لَأَجِدَنَّ خَيْرًا مِّنْهَا مُنقَلَبًا ﴿٣٦﴾

او په قیامت مې هم باور نشته خو بیاهم که( فرضاً) خپل رب ته وروګرځم نو ډیر غوره مقام به راته راکړی.

قَالَ لَهُۥ صَاحِبُهُۥ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ أَكَفَرْتَ بِٱلَّذِى خَلَقَكَ مِن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ سَوَّىٰكَ رَجُلًا ﴿٣٧﴾

ملګری یې ورته په خبرو کې وویل: آیا له هغه ذات نه منکریږې چې ته یې لومړی له خاورې او بیا یې له نطفې پیدا کړې او بیا یې یو سالم او روغ رمټ سړی درنه جوړ کړ.

لَّٰكِنَّا۠ هُوَ ٱللَّهُ رَبِّي وَلَآ أُشۡرِكُ بِرَبِّيٓ أَحَدٗا ٣٨

**خو زه ( د زړه له کومې) اقرار کوم چې همدغه الله مې رب دی او هيڅوک له خپل رب سره نه برابروم.**

وَلَوۡلَآ إِذۡ دَخَلۡتَ جَنَّتَكَ قُلۡتَ مَا شَآءَ ٱللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِٱللَّهِۚ إِن تَرَنِ
أَنَا۠ أَقَلَّ مِنكَ مَالٗا وَوَلَدٗا ٣٩

**او ولې دې خپل باغ ته د ننوتلو په وخت« ماشاءالله لا قوة الا بالله» و نه وايه. که ته فکر کوې چې زه ستا نه په شتمنۍ او اولاد کې کم يم.**

فَعَسَىٰ رَبِّيٓ أَن يُؤۡتِيَنِ خَيۡرٗا مِّن جَنَّتِكَ وَيُرۡسِلَ عَلَيۡهَا حُسۡبَانٗا
مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فَتُصۡبِحَ صَعِيدٗا زَلَقًا ٤٠

**نو له خپل رب نه هيله من يم چې ستا له بڼ نه به لا ډير ښه ماته راوبښي او ستا په بڼ به( ستا د غرور له امله)آسماني تکه راپريوزي او په شاړه بيديا به بدل شي.**

أَوۡ يُصۡبِحَ مَآؤُهَا غَوۡرٗا فَلَن تَسۡتَطِيعَ لَهُۥ طَلَبٗا ٤١

**او يا به يې اوبه په ځمکه کې جذب کړی چې بيا به يې ته په هيڅ وسيله را ونه ايستل شې.**

وَأُحِيطَ بِثَمَرِهِۦ فَأَصۡبَحَ يُقَلِّبُ كَفَّيۡهِ عَلَىٰ مَآ أَنفَقَ فِيهَا وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ
عُرُوشِهَا وَيَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي لَمۡ أُشۡرِكۡ بِرَبِّيٓ أَحَدٗا ٤٢

**( بالاخره دغه مغرور مشرک، د الله تعالی په عذاب اخته شو) او ټولې ميوې يې تباه شوې او په هغه لګښت چې په خپل باغ يې کړی و،د پښيمانۍ اوښکې تويولې. ليدل يې چې باغ يې په بل مخ راپريوتی، ويل يې: ای کاش هيڅوک مې له خپل رب سره( په ربوبيت کې) نه وی شريک کړی.**

وَلَمۡ تَكُن لَّهُۥ فِئَةٞ يَنصُرُونَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَمَا كَانَ مُنتَصِرًا ٤٣

**بيا هيڅ داسې ډله نه وه چې د الله تعالی په مقابل کې يې له هغه سره( د آفت په دفع کولو کې) مرسته کړی وی او نه ده پخپله ځان( له هلاکته) خلاصولی شو.**

هُنَالِكَ ٱلۡوَلَٰيَةُ لِلَّهِ ٱلۡحَقِّۚ هُوَ خَيۡرٞ ثَوَابٗا وَخَيۡرٌ عُقۡبٗا ٤٤

همدغه وخت ثابته شی چې حقیقی واک او اقتدار یوازې له الله تعالی سره دی( او هیڅوک یې فیصله نشی بدلولی) . ثواب هماغه ښه دی چې الله تعالی یې ورکړی او عاقبت هم هماغه ښه دی چې الله یې ښه کړی.

وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا كَمَآءٍ أَنزَلۡنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخۡتَلَطَ
بِهِۦ نَبَاتُ ٱلۡأَرۡضِ فَأَصۡبَحَ هَشِيمٗا تَذۡرُوهُ ٱلرِّيَٰحُۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ
مُّقۡتَدِرًا ٤٥

( ای پیغمبره!) خلکو ته د ژوند مثال ورکړه( چې د زوال او بې ثباتی د سرعت له حیثه) اوبو ته ورته دی چې مونږ یې له آسمانه نازلوو، او د هغو په وسیله نباتات رازرغونیږی( او د حیرانتیا وړ طراوت او سرسبزی پیدا کوی) بیا په لنډه موده کې ټوله سرسبزی تباه، هر څه وچ کلک او باد یې هره خوا خواره واره والوزوی. او بیشکه چې الله تعالی په هر کار پوره برلاسی او د طاقت خاوند دی.

ٱلۡمَالُ وَٱلۡبَنُونَ زِينَةُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَٱلۡبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ خَيۡرٌ عِندَ
رَبِّكَ ثَوَابٗا وَخَيۡرٌ أَمَلٗا ٤٦

مال او اولاد یوازې د دنیا موقتی ښکلا او رونق دی خو پاتې شوی نیک اعمال ستا د رب په حضور کې تر ټولو ښه اجر لری چې ورته د امید سترګې اوړی.

وَيَوۡمَ نُسَيِّرُ ٱلۡجِبَالَ وَتَرَى ٱلۡأَرۡضَ بَارِزَةٗ وَحَشَرۡنَٰهُمۡ فَلَمۡ نُغَادِرۡ مِنۡهُمۡ
أَحَدٗا ٤٧

او هغه ورځ( رایاده کړئ) چې مونږ ( دغه ټینګ او مستحکم) غرونه( له بیخه راونړوو) روان او له منځه یې یوسو، او ځمکه ټوله یو هوار ډګر شی او ټول (انسانان د قیامت د محشر په لور) راپورته کړو او یو تن هم رانه پاتې نشی.

وَعُرِضُواْ عَلَىٰ رَبِّكَ صَفّٗا لَّقَدۡ جِئۡتُمُونَا كَمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةِۭۚ بَلۡ
زَعَمۡتُمۡ أَلَّن نَّجۡعَلَ لَكُم مَّوۡعِدٗا ٤٨

او ټول به کتار کتار د الله تعالی حضور ته وړاندې شی( او ورته به وویل شی چې) دا دی یوازې زمونږ حضور ته راغلی لکه څنګه چې مو یوازې پیدا کړی وی( ای د بعث بعد الموت منکرینو! تاسو خو د مړو د بیا ژوندی

کيدو لپاره زمونږ قدرت نه مانه) بلکه ګومان مو دا و چې ستاسو د حساب کتاب لپاره به هيڅ کومه نيټه نه وی ټاکل شوی.

وَوُضِعَ ٱلْكِتَٰبُ فَتَرَى ٱلْمُجْرِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَٰوَيْلَتَنَا مَالِ هَٰذَا ٱلْكِتَٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً إِلَّآ أَحْصَىٰهَا ۚ وَوَجَدُوا۟ مَا عَمِلُوا۟ حَاضِرًا ۗ وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا ﴿٤٩﴾

او( د هرچا د اعمالو) کتاب به کيښول شی نو مجرمانو ته به ګورې چې د خپلو جرايمو په ليدلو به سخت په ويره کې وی، او وايی به: های زمونږ بده بخته. دا څه ډول کتاب دی چې زمونږ هر کوچنی او لوی عمل پکې درج دی. او خپلې ټولې کړنې به مخامخ وينی او ستا رب په هيڅا ظلم زياتی نه کوی.

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِءَادَمَ فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ إِبْلِيسَ كَانَ مِنَ ٱلْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِۦٓ ۗ أَفَتَتَّخِذُونَهُۥ وَذُرِّيَّتَهُۥٓ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِى وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّۢ ۚ بِئْسَ لِلظَّٰلِمِينَ بَدَلًا ﴿٥٠﴾

او( ای پيغمبره! انسانی پرګنو ته وريادکړه) کله چې مونږ پرښتو ته وويل: آدم ته سجده وکړی، ټول په سجدو پريوتل، خو ابليس چې د پيريانو له ډلې و، د خپل رب حکم او فرمان يې و نه مانه ( نو ای انسانانو!) آيا تاسو اوس همدغه ابليس او د هغه اولاده، زما په مقابل کې په دوستۍ او سرپرستی نيسی، په داسې حال کې چې هغوی ستاسو دښمنان دی؟( د الله تعالی په ځای د ابليس او د هغه د نسل دوستی) د ظالمانو لپاره ډيره ناوړه ټاکنه ده.

۞ مَّآ أَشْهَدتُّهُمْ خَلْقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَلَا خَلْقَ أَنفُسِهِمْ وَمَا كُنتُ مُتَّخِذَ ٱلْمُضِلِّينَ عَضُدًا ﴿٥١﴾

نه مې د آسمانونو او ځمکې د پيدايښت په چارو کې، ابليس او د هغه اولاده( د مرستې او مشورې لپاره) راغوښتې وو او نه مې د دوی د خپل پيدايښت په وخت کې. او نه مې ګمراه کوونکی د ځان لپاره مرستيالان ټاکلی( او نه ورته اړتيا لرم).

وَيَوۡمَ يَقُولُ نَادُواْ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُمۡ فَدَعَوۡهُمۡ فَلَمۡ يَسۡتَجِيبُواْ
لَهُمۡ وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُم مَّوۡبِقٗا ﴿٥٢﴾

او هغه ورځ راياده کړئ چې الله تعالی (مشرکانو ته) ووايي: ورغږ کړئ خپلو هغو باطلو خدايانو ته چې زما سره مو( په قدرت او ربوبيت کې) شريکان ګڼل( ترڅو مو نن زما له عذابه خلاص کړی) نو هغوی به خپلو بتانو ته چيغې ووهی خو د مرستې لپاره به هيڅ ځواب نه اوری، او د دوی( او باطلو خدايانو) ترمنځ به يې لويه فاصله وی.

وَرَءَا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ٱلنَّارَ فَظَنُّوٓاْ أَنَّهُم مُّوَاقِعُوهَا وَلَمۡ يَجِدُواْ عَنۡهَا
مَصۡرِفٗا ﴿٥٣﴾

او مجرمين به اور ته ګوری او پوخ باور به لری چې همدغه ته ورتلونکی دی او بيا ترې د خلاصون لاره هم نه لری.

وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ لِلنَّاسِ مِن كُلِّ مَثَلٖۚ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ
أَكۡثَرَ شَيۡءٖ جَدَلٗا ﴿٥٤﴾

بيشکه چې په دې قرآن کې مو خلکو ته هر ډول مثالونه وړاندې کړل( خو هغوی ترې انکار وکړ) او يقيناً چې انسان ډير زيات لجوج او جګړه مار دی.

وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤۡمِنُوٓاْ إِذۡ جَآءَهُمُ ٱلۡهُدَىٰ وَيَسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّهُمۡ
إِلَّآ أَن تَأۡتِيَهُمۡ سُنَّةُ ٱلۡأَوَّلِينَ أَوۡ يَأۡتِيَهُمُ ٱلۡعَذَابُ قُبُلٗا ﴿٥٥﴾

او کله چې خلکو ته هدايت( قرآن او رسول )راغی نو( د مکې مشرکين) څه شی له ايمان راوړلو او له خپل رب نه له ښښنې غوښتنې څخه منع کړل؟ بس همدا غواړی چې د پخوانيو( باغيانو او ظالمانو) له برخه ليک سره مخ شی او يا ( سملاسی الهی) عذاب مخامخ ووينی.

وَمَا نُرْسِلُ ٱلْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ ۚ وَيُجَـٰدِلُ ٱلَّذِينَ
كَفَرُوا۟ بِٱلْبَـٰطِلِ لِيُدْحِضُوا۟ بِهِ ٱلْحَقَّ ۖ وَٱتَّخَذُوٓا۟ ءَايَـٰتِى وَمَآ أُنذِرُوا۟
هُزُوًا ﴿٥٦﴾

او مونږ خو پيغمبران يوازې د دې لپاره استولی چې( ايمان راوړونکو ته د جنت) زيری ورکړی او(کافران له الهی عذابه) ووېروی. او کافرانو داسې باطلې هڅې پيل کړی ترڅو حق له منځه يوسی او زمونږ آيتونه او اخطارونه ټوکې او مسخرې وګڼی.

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَـٰتِ رَبِّهِۦ فَأَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِىَ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ ۚ إِنَّا
جَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِىٓ ءَاذَانِهِمْ وَقْرًا ۖ وَإِن
تَدْعُهُمْ إِلَى ٱلْهُدَىٰ فَلَن يَهْتَدُوٓا۟ إِذًا أَبَدًا ﴿٥٧﴾

او له هغه نه بل لوی ظالم څوک دی چې د الله تعالی په آيتونو ورته نصيحت وشی خو( بې له تفکر او تدبر نه) ترې مخ اړوی او خپل تير ناوړه اعمال هم هيروی. بيشکه چې مونږ د دوی زړونه په داسې توګه پوښلی چې ( په قرآن) نه پوهيږی او غوږونه مو ورله داسې کاڼه کړی( چې د حق آواز نه اوری) او که هر څو يې هدايت ته راوبلې خو هيڅکله هم عبرت او پند نه اخلی( او ايمان نه راوړی) .

وَرَبُّكَ ٱلْغَفُورُ ذُو ٱلرَّحْمَةِ ۖ لَوْ يُؤَاخِذُهُم بِمَا كَسَبُوا۟ لَعَجَّلَ لَهُمُ
ٱلْعَذَابَ ۚ بَل لَّهُم مَّوْعِدٌ لَّن يَجِدُوا۟ مِن دُونِهِۦ مَوْئِلًا ﴿٥٨﴾

او ستا رب ډير زيات ښبونکی او د رحمت څښتن ذات دی او که خلک يې د ګناهونو د ارتکاب له امله( بې له ځنډه) رانيولی، نو عاجل عذاب به وربانديې نازل شوی وی، خو هر څه يوې ټاکلې مودې ته ساتی او هغه وخت به بيا دوی د الله تعالی نه غير بله هيڅ اسره او پناهځی پيدا نه کړی.

وَتِلْكَ ٱلْقُرَىٰٓ أَهْلَكْنَـٰهُمْ لَمَّا ظَلَمُوا۟ وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِم
مَّوْعِدًا ﴿٥٩﴾

او دغه ( د عاد او ثمود او د لوط د قوم) ښارونه او آبادۍ دي( چې اوسيدونکو يې الهی احکام رد او په کفر او انکار سره يې ) پخپلو ځانونو ظلم وکړ، او مونږ هم په ټاکلی وخت تباه او برباد کړل( د هر ځای او هر عصر خلک باید د هغوی له سرنوشت نه عبرت واخلی، او له الهی عذابه وویرېږی).

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَىٰهُ لَآ أَبْرَحُ حَتَّىٰٓ أَبْلُغَ مَجْمَعَ ٱلْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضِىَ حُقُبًا ﴿٦٠﴾

او کله چې موسی خپل ځوان( خدمتګار) ته وويل سفر ته مې نيت دی( که لاره اوږده وی که لنډه خو) تر هغه به روان يم چې د دوو سيندونو د يوځای کيدو محل ته ورسيږم.

فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِى ٱلْبَحْرِ سَرَبًا ﴿٦١﴾

نو کله چې د دوو سيندونو د يوځای کيدو محل ته ورسيدل( موسی ويده شو او خدمتګار وليدل چې وريت کړی) کب يې( چې د خوراک لپاره يې راخستی و،راژوندی شو، سيند ته يې توپ کړ او) په اوبو کې پخپله لار لاړ( خو پيښه د خدمتګار له ياده ووته).

فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتَىٰهُ ءَاتِنَا غَدَآءَنَا لَقَدْ لَقِينَا مِن سَفَرِنَا هَـٰذَا نَصَبًا ﴿٦٢﴾

کله چې (موسی او خادم يې) له هغه ځايه وړاندې لاړل، موسی خپل خادم ته وويل: د غرمې ډوډی راوړه چې دې سفر خو مونږ ډير ستومانه کړو.

قَالَ أَرَءَيْتَ إِذْ أَوَيْنَآ إِلَى ٱلصَّخْرَةِ فَإِنِّى نَسِيتُ ٱلْحُوتَ وَمَآ أَنسَىٰنِيهُ إِلَّا ٱلشَّيْطَـٰنُ أَنْ أَذْكُرَهُۥ ۚ وَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِى ٱلْبَحْرِ عَجَبًا ﴿٦٣﴾

خادم يې وويل: ګوره هغه چې د لوی ګټ سره مو دمه کوله، کب په حيرانوونکی توګه سيند ته توپ کړ او پخپله لار لاړ، او شيطان مې دا خبره بيخی هيره کړه چې تاته مې ويلی وی.

قَالَ ذَٰلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ ۚ فَٱرْتَدَّا عَلَىٰٓ ءَاثَارِهِمَا قَصَصًا ﴿٦٤﴾

موسی وويل: همدغه ځای دی چې مونږ يې په لټه کې يو، نو بيرته په هماغه ليدلې لار ستانه شول.

فَوَجَدَا عَبۡدٗا مِّنۡ عِبَادِنَآ ءَاتَيۡنَٰهُ رَحۡمَةٗ مِّنۡ عِندِنَا وَعَلَّمۡنَٰهُ مِن
لَّدُنَّا عِلۡمٗا ٦٥

هلته يي زمونږ داسي يو بنده( خضر) وموند چي پخپل رحمت مو نازولی او خاصه پوهه مو ورکړی وه.

قَالَ لَهُۥ مُوسَىٰ هَلۡ أَتَّبِعُكَ عَلَىٰٓ أَن تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمۡتَ رُشۡدٗا ٦٦

موسی ورته وویل: آیا اجازه راکوې چې ستا سره پاتې شم او د هغه نیک علم څه برخه درنه زده کړم چې تاته در کړی شوی دی.

قَالَ إِنَّكَ لَن تَسۡتَطِيعَ مَعِيَ صَبۡرٗا ٦٧

( خضر) وویل: ته له ما سره صبر نشي کولی.

وَكَيۡفَ تَصۡبِرُ عَلَىٰ مَا لَمۡ تُحِطۡ بِهِۦ خُبۡرٗا ٦٨

او څنګه به په هغو کارونو صبر وکړې چې ته يې په اصل حقیقت هیڅ خبر نه يې.

قَالَ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ صَابِرٗا وَلَآ أَعۡصِي لَكَ أَمۡرٗا ٦٩

(موسی) وویل: که د الله تعالی اراده وی، ښه صبرکوونکی به می ومومې، او په هیڅ کار کې به ستا نافرمانی و نه کړم.

قَالَ فَإِنِ ٱتَّبَعۡتَنِي فَلَا تَسۡـَٔلۡنِي عَن شَيۡءٍ حَتَّىٰٓ أُحۡدِثَ لَكَ مِنۡهُ
ذِكۡرٗا ٧٠

(خضر) وویل: (ښه ده) که له ما سره پاتې کیږې نو د هیڅ شی په باب به ترهغه پوښتنه نه کوې ترڅو زه پخپله درته حقیقت بیان کړم.

فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَا رَكِبَا فِي ٱلسَّفِينَةِ خَرَقَهَاۖ قَالَ أَخَرَقۡتَهَا لِتُغۡرِقَ أَهۡلَهَا
لَقَدۡ جِئۡتَ شَيۡـًٔا إِمۡرٗا ٧١

نو دواړه روان شول تردې چې کښتی ته وختل، (خضر) کښتی سوری کړه. موسی ورته وویل: کښتی دې د دې لپاره سوری کړه چې ټول مسافر ډوب شی. دا خو دې ډیر ناوړه کار وکړ.

قَالَ أَلَمۡ أَقُلۡ إِنَّكَ لَن تَسۡتَطِيعَ مَعِيَ صَبۡرٗا ٧٢

(خضر) وویل: ما نه وو ویلی چې زما سره صبر نشې کولې؟

قَالَ لَا تُؤَاخِذۡنِي بِمَا نَسِيتُ وَلَا تُرۡهِقۡنِي مِنۡ أَمۡرِي عُسۡرٗا ٧٣

(موسی) وویل: په هیرولو مې مه رانیسه او په چاره کې مې راسره سختی هم مه کوه.

فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَا لَقِيَا غُلَٰمٗا فَقَتَلَهُۥ قَالَ أَقَتَلۡتَ نَفۡسٗا زَكِيَّةَۢ بِغَيۡرِ نَفۡسٖ
لَّقَدۡ جِئۡتَ شَيۡـٔٗا نُّكۡرٗا ٧٤

بیا دواړه روان شول، تر هغه چې یو زلموټی هلک په مخه ورغی.( خضر) هغه هلک وواژه. (موسی) ورته وویل: یو پاک بې ګناه انسان دې وواژه، بې له دې چې هغه د چا د قتل پوروړی وی. ته خو د یوه ډیر بد عمل مرتکب شوې.

۞ قَالَ أَلَمۡ أَقُل لَّكَ إِنَّكَ لَن تَسۡتَطِيعَ مَعِيَ صَبۡرٗا ٧٥

(خضر) وویل: آیا ما درته نه وو ویلی چې ته زما سره( زما په چارو) صبر نشې کولې؟

قَالَ إِن سَأَلۡتُكَ عَن شَيۡءِۭ بَعۡدَهَا فَلَا تُصَٰحِبۡنِيۖ قَدۡ بَلَغۡتَ مِن لَّدُنِّي
عُذۡرٗا ٧٦

(موسی) وویل: که مې له دې وروسته د څه شی پوښتنه درنه وکړه بیا مې له ملګرتیا رخصت کړه ځکه ستا عذر او حجت په ما پای ته ورسید.

فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَيَآ أَهۡلَ قَرۡيَةٍ ٱسۡتَطۡعَمَآ أَهۡلَهَا فَأَبَوۡاْ أَن يُضَيِّفُوهُمَا
فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارٗا يُرِيدُ أَن يَنقَضَّ فَأَقَامَهُۥۖ قَالَ لَوۡ شِئۡتَ لَتَّخَذۡتَ
عَلَيۡهِ أَجۡرٗا ٧٧

بیا دواړه روان شول تر هغه چې د یوه کلی له خلکو سره مخامخ شول او له هغوی نه یې خواړه وغوښتل خو هغوی یې هیڅ میلمه پالنه و نه کړه، چې وړاندې لاړل په همدغه کلی کی یې یو زوړ نړیدونکی دیوال ولید نو(

خضر) هغه بیرته جوړ او له راغورځیدو وژغوره. (موسی) ورته وویل: دومره خو دې کولی شول چې اجوره ترې واخلې.

قَالَ هَٰذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ ۚ سَأُنَبِّئُكَ بِتَأْوِيلِ مَا لَمْ تَسْتَطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٧٨﴾

(خضر) وویل: بس همدلته زما او ستا لارې جلا دی خو د هغو کارونو په تفسیر او حقیقت به دې پوه کړم چې تا ورباندې صبر، و نه شو کولی.

أَمَّا السَّفِينَةُ فَكَانَتْ لِمَسَاكِينَ يَعْمَلُونَ فِي الْبَحْرِ فَأَرَدتُّ أَنْ أَعِيبَهَا وَكَانَ وَرَاءَهُم مَّلِكٌ يَأْخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ غَصْبًا ﴿٧٩﴾

کښتۍ خو د مسکینانو وه چې په بحر کې يې چلوله، او وړاندې یو پادشاه و چې هره روغه رمته کښتۍ به يې په زور او جبر نیوله( نو ما هغه سورۍ کړه ترڅو د ظالم پادشاه لاس ته ورنشی).

وَأَمَّا الْغُلَامُ فَكَانَ أَبَوَاهُ مُؤْمِنَيْنِ فَخَشِينَا أَن يُرْهِقَهُمَا طُغْيَانًا وَكُفْرًا ﴿٨٠﴾

او ماشوم هلک مې ځکه وواژه چې پلار او مور يې نیک مؤمنان وو او زمونږ ویره دا وه چې همدغه زوی به يې کفر او سرکشۍ ته اړ باسی.

فَأَرَدْنَا أَن يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِّنْهُ زَكَاةً وَأَقْرَبَ رُحْمًا ﴿٨١﴾

نو اراده مو وکړه چې رب يې ورته د هغه په ځای داسې یو بل زوی ورکړی چې( هم په اخلاقی لحاظ) پاک او هم په هغوی مهربان او زړه سواندی وی.

وَأَمَّا ٱلْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَٰمَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِي ٱلْمَدِينَةِ وَكَانَ تَحْتَهُۥ كَنزٌ
لَّهُمَا وَكَانَ أَبُوهُمَا صَٰلِحًا فَأَرَادَ رَبُّكَ أَن يَبْلُغَآ أَشُدَّهُمَا
وَيَسْتَخْرِجَا كَنزَهُمَا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۚ وَمَا فَعَلْتُهُۥ عَنْ أَمْرِى ۚ ذَٰلِكَ
تَأْوِيلُ مَا لَمْ تَسْطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٨٢﴾

او(پاتې شوه د دیوال خبره نو) هغه خو د کلی د دوو یتیمو هلکانو ملکیت و چې تر لاندې یې د هغوی خزانه وه او پلار یې نیک او صالح انسان و، نو ستا رب وغوښتل چې( خزانه محفوظه وساتل شی) ترڅو هلکان پاخه ځلمیتوب ته ورسی او خپله خزانه د خپل رب په فضل او مرحمت راوباسی، او دغه یو کار هم ما پخپله اراده نه دی کړی. دغه و، د هغو کارونو تفسیر او حقیقت چې تا وربانديې صبر، ونه شو کولی.

وَيَسْـَٔلُونَكَ عَن ذِى ٱلْقَرْنَيْنِ ۖ قُلْ سَأَتْلُوا۟ عَلَيْكُم مِّنْهُ
ذِكْرًا ﴿٨٣﴾

او( مشرکين ) د ذوالقرنين په باب له تا پوښتنه کوی، ورته ووایه چې زه به د هغه په باب یو څه تشریحات درکړم.

إِنَّا مَكَّنَّا لَهُۥ فِى ٱلْأَرْضِ وَءَاتَيْنَٰهُ مِن كُلِّ شَىْءٍ سَبَبًا ﴿٨٤﴾

( هغه یو عادل،متدین او الله او آخرت منونکی پادشاه و، چې )مونږ په ځمکه کې په( بې ساری) قوت او قدرت نازولی او ټول (هغه خارق العاده) وسایل او تسهیلات مو ورته په لاس ورکړل( چې ده ورته د نړی ختیځ او لویدیځ ته پخپلو حیرانوونکو فتوحاتو کې اړتیا درلوده) .

فَأَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٥﴾

نو( د لویدیځ په لور یې) د سفر تابیا ونیوه او( لازم وسایل یې ورته برابر کړل).

حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ ٱلشَّمْسِ وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِى عَيْنٍ حَمِئَةٍ وَوَجَدَ عِندَهَا
قَوْمًا ۗ قُلْنَا يَٰذَا ٱلْقَرْنَيْنِ إِمَّآ أَن تُعَذِّبَ وَإِمَّآ أَن تَتَّخِذَ فِيهِمْ حُسْنًا ﴿٨٦﴾

تر هغه چې د لمر پریوتو محل ته ورسید( او د لمر د غروب منظر یې) داسې ولید چې د تورو اوبو په چینه کې پریوزی او هلته( له یوه ظالم او مفسد) قوم سره مخامخ شو. مونږ ورته وویل: ای ذوالقرنینه!( اختیار ستا دی چې) دې قوم ته سزا ورکوې او که نیکه رویه ورسره غوره کوې ( او ایمان راوړلو ته یې رابلې ).

قَالَ أَمَّا مَن ظَلَمَ فَسَوْفَ نُعَذِّبُهُۥ ثُمَّ يُرَدُّ إِلَىٰ رَبِّهِۦ فَيُعَذِّبُهُۥ عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨٧﴾

ذوالقرنین وویل: څوک چې( د کفر، فساد او ګناه په وسیله) د ظلم لاره ونیسی سزا به ورکړم بیا به د خپل رب لوری ته ورګرځی او لا سخت عذاب به ووینی.

وَأَمَّا مَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَلَهُۥ جَزَآءً ٱلْحُسْنَىٰ ۖ وَسَنَقُولُ لَهُۥ مِنْ أَمْرِنَا

يُسْرًا ﴿٨٨﴾

او څوک چې نیک او ښه کارونه وکړی نو ښه مکافات به واخلی او مونږ به هم ورته ښې آسانتیاوې برابرې کړو.

ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٩﴾

بیا یې( د ختیځ په لور) د سفر نیت وکړ.

حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ ٱلشَّمْسِ وَجَدَهَا تَطْلُعُ عَلَىٰ قَوْمٍ لَّمْ نَجْعَل لَّهُم مِّن

دُونِهَا سِتْرًا ﴿٩٠﴾

تر هغه چې د لمر راختو محل ته ورسید او یو قوم یې ولید چې د تودوخې د مخنیوې لپاره نه په سر سیوری لری او نه په تن کالی.

كَذَٰلِكَ وَقَدْ أَحَطْنَا بِمَا لَدَيْهِ خُبْرًا ﴿٩١﴾

همداسې و( د ذوالقرنین داستان چې لومړی  د لویدیځ او بیا د ختیځ وروستی سرحد ته ورسید) او مونږ( د هغه په ټولو مادی وسایلو او معنوی استعداد او لیاقت) پوره علمی خبرتیا درلوده.

ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٩٢﴾

بیا یې د بل سفر لپاره وسایل برابر کړل( چې زیاترو مفسرینو د شمال سفر بللی دی).

حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ بَيْنَ ٱلسَّدَّيْنِ وَجَدَ مِن دُونِهِمَا قَوْمًا لَّا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ
قَوْلًا ﴿٩٣﴾

تر هغه چې د دوو غرونو ترمنځ یوې پرتې سیمې ته ورسید او له یوه داسې قوم سره مخامخ شو چې( له خپلې ژبې نه غیر په بله)هیڅ ژبه نه پوهیده.

قَالُواْ يَٰذَا ٱلْقَرْنَيْنِ إِنَّ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ
خَرْجًا عَلَىٰٓ أَن تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ﴿٩٤﴾

ویې ویل چې یاجوج او ماجوج دلته( قتل، لوټ مار او ) فساد جوړ کړی او که ته کولی شې چې د اجورې په بدل کې زمونږ او هغوی ترمنځ یو سد جوړکړې.

قَالَ مَا مَكَّنِّى فِيهِ رَبِّى خَيْرٌ فَأَعِينُونِى بِقُوَّةٍ أَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا ﴿٩٥﴾

ذوالقرنین وویل: ماته مې زما د رب له لوری راکړی شوی قدرت او طاقت( ستاسو له اجورې نه) ډیر غوره دی، تاسو ماته د کار کسان راکړئ، زه به ستاسو او هغوی ترمنځ یو کلک او مستحکم دیوال جوړ کړم.

ءَاتُونِى زُبَرَ ٱلْحَدِيدِ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا سَاوَىٰ بَيْنَ ٱلصَّدَفَيْنِ قَالَ ٱنفُخُواْ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَعَلَهُۥ
نَارًا قَالَ ءَاتُونِىٓ أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا ﴿٩٦﴾

ماته د اوسپنې لویې تختې راوړئ( او د دې دواړو غرونو ترمنځ یې ولګوئ. هغوی اوسپنیزې تختې راوړې او ویې لګولې) او د دواړو غرونو ترمنځ فاصله یې بنده او سره مسطح کړه. بیا یې امر وکړ چې اوس په دې بټیو کې اور بل او ښه یې تازه کړئ تر هغه چې اوسپنیز دیوال د اور پشان تک سور شو، بیایې وویل: اوس نو ویلی شوی مس راوړئ چې ورباندې یې توې کړم.

فَمَا ٱسْطَٰعُوٓاْ أَن يَظْهَرُوهُ وَمَا ٱسْتَطَٰعُواْ لَهُۥ نَقْبًا ﴿٩٧﴾

( د دیوال په جوړیدو سره، د یاجوج او ماجوج د تګ راتګ مخه ونیول شوه) نه ورختلی شول او نه یې سوری کولی شو.

قَالَ هَٰذَا رَحْمَةٌ مِّن رَّبِّى ۖ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ رَبِّى جَعَلَهُۥ دَكَّآءَ ۖ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّى حَقًّا ﴿٩٨﴾

( ذوالقرنین د دیوال له جوړیدو وروسته) وویل: دا په ما باندې زما د رب ځانګړی رحمت دی، خو کله چې زما د رب ټاکلې وعده رارسی دا( دیوال) به ونړوی او بیشکه چې زما د رب وعده رښتونی او حق ده.

۞ وَتَرَكۡنَا بَعۡضَهُمۡ يَوۡمَئِذٖ يَمُوجُ فِي بَعۡضٖۖ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَجَمَعۡنَٰهُمۡ جَمۡعٗا ٩٩

او په هغه ورځ( چې دیوال ونړیږی او د دنیوی ژوند د پای نښې راځرګندې شی، یاجوج او ماجوج او نور مخلوقات) به ټول پریږدو چې سره یوځای ګډ وډ او مخلوط شی، (او د سمندر د څپو په شان) موجونه ووهی. بیا به( د قیامت د رارسیدو لپاره د اسرافیل) شپیلۍ ووهل شی )او ټول مخلوقات به (د الله تعالی حضور ته) حشر شی.

وَعَرَضۡنَا جَهَنَّمَ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡكَٰفِرِينَ عَرۡضًا ١٠٠

او( په همدغه ورځ به) دوزخ کافرانو ته( په یوه ویروونکی شکل) راڅرګند شی.

ٱلَّذِينَ كَانَتۡ أَعۡيُنُهُمۡ فِي غِطَآءٍ عَن ذِكۡرِي وَكَانُواْ لَا يَسۡتَطِيعُونَ سَمۡعًا ١٠١

هغه کافران چې د( بصیرت) سترګې یې زما له یادو،( د غفلت) په پردو کې پټې وې او( د خپل رب کلام یې هم) نه شو اوریدې.

أَفَحَسِبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَن يَتَّخِذُواْ عِبَادِي مِن دُونِيٓ أَوۡلِيَآءَۚ إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا جَهَنَّمَ لِلۡكَٰفِرِينَ نُزُلٗا ١٠٢

آیا کافران داسې انګیری چې زما هغه بندګان به چې دوی زما په مقابل کې د خپلو حامیانو او سرپرستانو په حیث ټاکلی( په دنیا او آخرت کې له دوی سره څه مرسته وکړی؟ هیڅکله نه) بلکه مونږ د کافرانو د میلمه پالنې او هرکلی لپاره دوزخ تیار کړی دی.

قُلۡ هَلۡ نُنَبِّئُكُم بِٱلۡأَخۡسَرِينَ أَعۡمَٰلًا ١٠٣

ورته ووایه: آیا هغه خلک در وپیژنم چې د اعمالو په زیان اخته دی؟

ٱلَّذِينَ ضَلَّ سَعۡيُهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَهُمۡ يَحۡسَبُونَ أَنَّهُمۡ يُحۡسِنُونَ صُنۡعًا ١٠٤

هغه کسان دی چې دنیوی هلې ځلې یې تباه شوی خو بیاهم فکر کوی چې په ښو( خیریه) چارو مصروف دی.

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ وَلِقَآئِهِۦ فَحَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فَلَا نُقِيمُ لَهُمۡ
يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَزۡنٗا ١٠٥

**دا هغه کسان دی چې د خپل رب په آیتونو کافر او( د اعمالو د محاسبې لپاره) د هغه له ملاقات نه منکر دی او له همدې امله یې ټول دنیوی اعمال تباه شوی او د قیامت په ورځ به یې اعمال په هیڅ تله و نه تلل شی.**

ذَٰلِكَ جَزَآؤُهُمۡ جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُواْ وَٱتَّخَذُوٓاْ ءَايَٰتِي وَرُسُلِي هُزُوًا ١٠٦

**همدا جهنم یې سزا ده ځکه همدوی وو، چې کفر یې غوره کړی و، او همدوی وو، چې زما په آیتونو او پیغمبرانو یې ملنډې وهلې.**

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ كَانَتۡ لَهُمۡ جَنَّٰتُ ٱلۡفِرۡدَوۡسِ نُزُلًا ١٠٧

**بیشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی او کړنې یې هم نیکې دی، میلمستون به یې د فردوس جنتونه وی.**

خَٰلِدِينَ فِيهَا لَا يَبۡغُونَ عَنۡهَا حِوَلٗا ١٠٨

**هلته به تلپاتې ژوند ولری او نه به غواړی چې بل خوا ترې لاړ شی.**

قُل لَّوۡ كَانَ ٱلۡبَحۡرُ مِدَادٗا لِّكَلِمَٰتِ رَبِّي لَنَفِدَ ٱلۡبَحۡرُ قَبۡلَ أَن تَنفَدَ كَلِمَٰتُ رَبِّي وَلَوۡ
جِئۡنَا بِمِثۡلِهِۦ مَدَدٗا ١٠٩

**( ای پیغمبره!) ووایه که له ټول سمندر نه زما د رب د کلماتو د لیکلو لپاره د سیاهۍ کار واخستل شی، او بل سمندر هم ورسره مل شی، نو وچ به شی خو زما د رب کلمات به پای ته و نه رسی.**

قُلۡ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ فَمَن كَانَ يَرۡجُواْ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلۡيَعۡمَلۡ عَمَلٗا صَٰلِحٗا وَلَا يُشۡرِكۡ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدَۢا ١١٠

**ووایه: بی له شکه زه ستاسو په شان یو انسان یم او راته وحي کیږی چې رب مو یوازې او یوازې د الله تعالی واحد ذات دی، نو څوک چې له خپل رب سره د ملاقات او تقرب هیله من دی باید نیک کارونه وکړی او د خپل رب په عبادت کې له هغه سره هیڅوک شریک نه کړی.**

**« تمت سورة الکهف بفضل الله. والحمد لله رب العالمین»**

**====================**